مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۶/۰۲

# یو تاریخي بډیال

## (متناقض نما = پارادوکسParadox )

همدلته یوه دوست وپوښتلم: «افغانستان له خپلو ټولو طبیعي شتمنیو، روانو اوبو، ځوان بشري ځواک او... سره ولې وږی، بېوزله، وزګار او اړ دی؟»
هغه مهال مې هم ورته ولیکل، اوس یې هم وایم، چې دا پوښتنه کتابونه کتابونه ځواب غواړي او لاملونه یې هم ګڼ دي.
وچه، بې بارانه او ځیره جغرافیا، بدې واکمنی، پرلپسې تاړاکونه او فرهنګي روسته پاتې والي یې په لومړي کتار کې راځي، خو یو تاریخي بډیال یا متناقض نما = پارادوکس یا اړیېچ چې موږ په کې راګیر یو، هغه زموږ په ټولنیز روان کې د یوه وراسته، سولېدلي او ناسم باور بنسټي کېدل دي. دا باور راته وايي :مړښت، ښه ژوند، سوکالي، هوسابینه او له پرون ښځه نن او له نن ښځه سبا ته د انساني ژوند د شرایطو ښه کول د کافرانو کار دی او مسلمان باید یوازې او یوازې د هغې بلې دونیا په اړه فکر و هڅه وکړي او بس.
دغه تاریخي او ګواښمن پارادوکس نه یوازې زموږ په تاریخي لاشعور کې ریښې کړې، بلکې د باوري کولو لپاره مو یې لویه برخه ادبیات هم ښځولي دي. موږ له همداسې رواني انګېزې سره زېږو، په همداسې ګروهېز چاپېریال کې رالوېږو او له ادبیاتو سره یې خپل ژوند ته لیدلوری ورکوو:
«... څه به دا دونیا وي او څه ټول د دې دونیا؟»
له فاني دونیا ښځه زموږ په نظمونو او دیني موعظو کې ډېر سر ټکول شوی، چې دلته یې ذکر نه ځایېږي.
خبره دا هم نه ده، چې اوس پر دې بحث وکړو، چې دا دونیا خو ریښتیا فاني ده.
خبره دا ده، چې که دا منو، نو بیا له خپلې ولږې، بېوزلی، محرومیت، روسته پاتې والي او بدمرغی ښځه ولې ګیله کوو؟
نورو اسلامي پرمختللیو ټولنو دا ستونزه ښځګه حل کړې ده؟
همدا څو ورځې مخکې تورکیې کې ټاکنې وشوې؟ دغه هېواد ښځګه د دونیايي پرمختګ او عقیدې ترمنځ سوله کړې ده؟
اندونیزیا او مالیزیا، ګڼو بډایو عربي هېوادونو دا پارادوکس ښځګه حل کړی دی؟
زموږ لویه بدمرغي دا ده؛
هغوی چې شپه و ورځ دغه پارادوکس راته موعظه کوي او په سترګو یې راننباسي، دونیا بیوفا، لولې او د کفارو لپاره جنت بولي، دوی تر هر بل چا د ځواک، عیش، پیسو، خوراک، دولت او سیاست لیونیان دي. هیڅا به د قدرت لپاره دومره وینې بهولې نه وي، لکه همدغو واعظانو چې د دونیايي قدرت لپاره بهولې او په خونړي حرص یې ځان په همدې دونیا پرسولی دی.
زموږ ستونزه ځکه ژوره ده، چې له دې دونیا سرټکوونکي او د هغې دونیا مبلغ واعظان دغه باور د سیاسي وسلې او وسیلې په توګه کاروي، زموږ زړه له ښه ژوند، هوساینې او پرمختګ ښځه راتوروي، خو خپله لکه زنځه وریورې نښتي دي.
دا کیسه اوږده ده،
خو په دې پوښتنه به یې پای ته ورسوو، چې:
که دا دونیا دومره بده ګڼو، نو بیا باید له خپلې بېوزلی او تاریخي محرومیت ښځه ګیله ونه کړو، چوپه خوله بلې دونیا ته د ورتللو په تمه کینو.
او که ځانونه انسانان ګڼو او هم د دې دونیا خیر او هم د هغې دونیا رحمت غواړو، نو باید منافق او دروغجن واعظان له ګریوانه راونیسو.
زموږ د بدمرغی تاریخي پای له همداسې یوه ستر تاریخي پاڅون سره تړلی دی.
پوښتنې وکړئ او پوښتنو ته ځواب ولټوئ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ